مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

اکبر بری

۲۰۲۱/۰۷/۱۱

# موږ او نور

موږ د ژوند په فلسفو خپل ژوند تباه کړ

نورو وکړلي په ژوند د ژوند مزې

موږ د خيال پر ټټو لار ګورو اسمان ته

نورو کښېښودې د هسک پر لور زينې

موږ په پټوسترګو سر په اټکلونو

نوروټول جهان ته سترګي کړې رڼې

موږ سبا او بيګا سر په ګپ او شپ يو

نور په کاراوزيار لګيا خولې خولې

نورو ځانته سپيره خاوره شين جنت کړه

موږ کړ خپل جنت  وطن خاوري ايرې

موږ چي هسي په دې خپل لاس هرڅه وران کړه

بيا په څه خاطر  له چا کاندو ګيلې؟



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ